مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۱/۱۰/۰۳

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

درینویمه برخه

«کورونا» نا روغي، د لنډیو په غېږ کې

دوه دېرشمه برخه

په ولوراه پسې ورکه یاره
زه کورنا یم ښایي نه وي دیدنونه

د کورونا نښې درکې دي
شرینه یاره مه راځه، نه به درځمه

په کورونا لړلی راشي
چې دې له ما سره مات کړي دي لوزونه

په کورونا یم ستې شوی
جانان دې نه راځي، خپل ځان دې وساتینه

زموږ پر خلکو او ټولنې باندې وروستیو سیاسي نظامي بدلونونو ژور اثر کړی دی، د ځینو مثبتو بدلونونو تر څنګ، یو څه داسې ستونزې هم زامنځته شوې دي چې زغمل یې ډېر ستونزمن او حتی نا شوني دي لکه د لوږي سونامي.

لوږي او وزګارتیا خلک داسې حالت سره مخ کړي چې نه یې کورونا په یاد ده او نه یې نورې ناروغتیاد=وې او ټولنیز مرضونه، خو له دې سره ـ سره کله ـ کله خلک یوه نیمه داسې لنډۍ تخلیقوي چې د کورنا وبا یادونه په کې شوې وي.

د لنډیو د دې برخې له پاره ما دا لاندې کورونایي لنډۍ راټولې کړې دي:

خدای دې راښه له کورونا کړه
یو به راښه شې، بل به نه وي پېغورونه

له کورونا رغېدن شته دی
چې ښه راجوړ شوې، بیا به ورکړم خیراتونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په کورونا دې زه غلط کړم
نامردې ولې په میدان دې پرېښودمه

په ولوراه پسې ورکه یاره
زه کورنا یم ښایي نه وي دیدنونه

د کورونا نښې درکې دي
شرینه یاره مه راځه، نه به درځمه

باور په چا ونه کړې یاره
کورونا نه یم چا دروغ ویلي دینه

له دې نه ښه ژوندون به نه وي
نه کورونا شته، نه مې یار څوک لمسوینه

ته وایې غم مه کوه یاره
د کورونا سودا مې خوب ته نه پرېږدینه

د تا په فکر کې ویده شم
د کورونا ډار مې له خوبه پاڅوینه

تغر به تول د ژوندانه شي
له کورونا نه به برباد شي وطنونه

په کورونا لړلی راشې
چې دې له ما سره مات کړي دي لوزونه

تګي دې وکړه، تګه یاره
کورونا نه وې زما دې صبر پر خدای وینه

جانانه راشه که مې ګورې
زه کورنا یم ښایي نه وي دیدنونه

کورونا یار رانه جلا کړ
بې له دیدنه به یې څه کړم سلامونه

ته به مې هلته ارمان وکړې
چې کورنا شم، نور به نه وي دیدنونه

میینان هله سره ژاړي
چې کورونا شي، نیمه خوا شي ارمانونه

په کورونا یم ستې شوی
جانان دې نه راځي، خپل ځان دې وساتینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ